SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپرېږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال دري پنځوسمه گڼه پرله پسي (۳۴۰) شنبه د۱۴۲۱هـ ق کال د ربیع الثاني (۲۷)
د۱۳۷۹هـ ش کال د زمري دمیاشتي(۸) د ۲۰۰۰میلادي کال د جولای (۲۹)

په ۱۴۲۰هـ ق کال کي :

د شمال د تیلو او گاز له تصدی نه (۳۵۲٤٤۲۳٦۰۰۰) افغانی عواید تر لاسه شوی

شبرغان - باختر :

د شمال د تیلو او گاز د پلټنی ریاست په ۱٤۲۰ هـ ق کال کی د اومو تیلو د پلورنی له پلوه د پنځه دیرش ملیارده دری سوه څلور څلویښت ملیونه دوه سوه شپږ دیرشو زرو افغانیو عاید تر لاسه کړی دی.

د شمال د تیلو د پلټنی ریاست پروژه د اته سوه نهه اویا تنو ماموړینو او اجیرو کارگرانو په تشکیل سره فعالیت کوی چی تر اوسه پوری یی اوه څلویښت ترانسپورتی او تخنیکی وسایط ددغی پروژی په بیلا بیلو ورکشاپونو کی ترمیم کړی دی او سر بیره پردی د هیواد د شمال په سیمو کی یی د اسلامی امارت د اړدو یو سلو دوه دیرش زغروالی واسطی ترمیم کړی دی.

د شمال د تیلو او گاز د پلټنی ریاست یو مسوول خبرڅای وویل : د شمال د تیلو او گاز د پلټنی ٤ مخ

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

محترم وزیر امور خارجه امارت اسلامي افغانستان :

با تمام کشور هاي جهان خواهان روابطي هستیم که بر احترام متقابل استوار باشد

کشور هایکه به خاطر اهداف سیاسي شان دیگران را ملامت مي سازند باید در موضعگیري هاي شان در قبال امارت اسلامي تجدید نظر نمایند

امارت اسلامي افغانستان باز سازي و اعمار مجدد را در اولویت قرار داده و توجه جدي خود را به آرامش مردم معطوف داشته است

مخالفین به اشاره روسها با افغانها مي جنگند، ایکاش آنها از تعقل کار بگیرند

کابل - باختر :

محترم مولوي وکیل احمد متوکل وزیر امور خارجه روز پنجشنبه در مقر آنوزارت با شاغلي فرانسیس وندرل نماینده خاص سرمنشي سازمان ملل متحد در امور افغانستان ملاقات نمود.

طي این ملاقات طرفین روي یك سلسله مسایل ملي و منطقوي بحث و تبادل نظر نموده شاغلي وندرل در رابطه به سفر هاي اخیر خویش و نتایج آن به محترم وزیر امور خارجه گزارش داده اظهار خوشي نمود که بعد از ختم سفر هایش با وزیر امور خارجه ملاقات مي نماید.

در این ملاقات محترم مولوي وکیل احمد متوکل در رابطه به انکشافات و تحولات جاري سیاسي و نظامي در کشور صحبت نموده گفت : سلسله سفر شما جالب است و ممکن است نتایج مفیدي را در پي داشته باشد.

وي اضافه نمود : همه اتباع ساکن در کشور باشنده گان افغانستان واحد میباشند ما به خاطر آرامش مردم خود آماده هرگونه قرباني هاي مشروع میباشیم.

مخالفین ا.ا.ا با آنکه خود را شکار توطیه هاي استکبار جهاني میدانند باز هم بطور آگاهانه به واسطه کمکهاي خارجي خود را جا مي زنند.

همین اکنون مخالفین به اشاره ص ٤

سلسله توزیع کمک هاي سره میاشت ادامه دارد

سلسله توزیع مساعدتهاي جمعیت عالي افغاني سره میاشت به اهالي آسیب دیده از اثرات سوء خشکسالي موجود در نقاط مختلف کشور ادامه دارد.

به ارزش یك هزار لك افغاني مساعدتهاي جمعیت عالي افغاني سره میاشت که شامل گندم و سایر مواد خوراکه میباشد دیروز در ولایت غور به دو هزار خانواده مستحق که در اثر خشکسالي موجود خساره مند گردیده اند توزیع گردید.

سلسله توزیع این مساعدتها در ولایاتي که مردم از اثر تاثیرات سوء خشکسالي متضرر گردیده اند ادامه دارد.

په تخار کی :

د دینی عالمانو ژوند تر گواښ لاندی دی

کابل - باختر :

د تخار په ولایت کی دینی عالمان او قومی مشران مصوونیت نلری او تل تر څارنی لاندی دی.

د تخار ولایت یو تن جید عالم چی په افغانستان کی یی د روسانو عملونه غندل او خلک یی د روسانو په تیری کوونکو سپاستونو باندی خبرول د مسعود د باغی تو پکیانو له خوا ونیول شو او بندی ٤ مخ

در شرایط فعلي :

بشمول دو میدان بین المللي ۱۲ میدان ملکي کشور با تمام لوازم آن فعال میباشد

محترم ملا محمد منصور وزیر هوانوردي و توریزم

کابل - باختر :

محترم ملا محمد منصور وزیر هوانوردي و توریزم در این تازه گي ها از تاسیسات ساختمانهاي میدان هوایي کندز دیدن نمود.

میدان هوایي کندز که ص ٤

په اسلام آباد کی د اسلامی امارت سفیر :

هر څوک چی زموږ د ملی ارزښتونو درناوی کوی موږ ورسره همکاری ته چمتو یو

اسلام آباد - باختر :

د پاکستان په اسلامی جمهوریت کی د افغانستان د اسلامی امارت سفیر محترم مولوی سید محمد حقانی پرون په اسلام اباد کی د اندونیزیا له سفیر سره ددغه سفارت په مقر کی وکتل. ٤ مخ

جنرال پرویز مشرف :

د کشمیری مسلمانانو مرسته مو دینی مسؤلیت دی

د پاکستان د اسلامی جمهوریت د اجرائیوی شورا رئیس جنرال پرویز مشرف څرگنده کړی ده چی دغه هیواد له سولی او دغه راز د هند تر اشغال لاندی ٤ مخ

په جاپان کی :

د وزګارو کسانو شمیر مخ په زیاتیدو دی

په جاپان کی پرون اعلام وشو چی په دغه هیواد کی د وزګارو کسانو شمیر د تیرو څلورو میاشتو په پرتله په سلو کی څلور اعشاریه اوه زیات شوی ده.

د جاپان د کارموندلو د چارو وزارت یوه ویندوی ددغه هیواد په پایتخت توکیو کی وویل په ٤ مخ

ایهود بارک تر سخت فشار لاندی دی

د صهیونستی رژیم صدراعظم ایهود بارک د کورنی سیاست په ډگر کی تر زیات فشار لاندی نیول شوی دی.

د نړیوالو خبری منابعو د خبر له مخی د ٤ مخ

په بنگله دیش کی حالات کړکیچن شول

په بنگله دیش کی ډیر ژر د انتخاباتو د تر سره کولو لپاره ددغه هیواد د مخالفو سیاسی گوندونو له ٤ مخ

جهت حل معضله آب آشامیدني ساحات کارته پروان، کارته آریانا، کارته ماموریں و باغ بالا :

عنقریب دو حلقه چاه عمیق حفر مي گردد

محترم رئیس تصدي آبرساني

شریعت : خوانندگان عزیزا خبرنگار ما در مورد چگونگي وضعیت فعلي جریان آب آشامیدني صحي در سیستم کانالیزاسیون شهر کابل با محترم رئیس تصدي آبرساني مصاحبه را انجام داده است که توجه شما عزیزان را به خوانش آن جلب میداریم.

در آغاز محترم رئیس تصدي آبرساني چنین گفتند : طوریکه به همه معلوم است خشکسالي موجود در اکثر ولایات افغانستان سایه تاریك را افگنده و مردم رنجدیده ولایات متذکره را با خطارات بزرگي مالي ص ٤

چین و روسیه برنامه ضد راکیتي امریکا را تقبیح نمود

چین و روسیه بار دیگر برنامه ضد راکتي ایالات متحده امریکا را تقبیح کرده گفتند که باعث بي ثباتي در میان کشور ها میگردد.

وزیر خارجه چین ضمن صحبت در کنفرانس کشور هاي حوزه آسیا پاسفیك در هانکانگ گفت : این برنامه ص ٤

ابلاغیه مقام امارت اسلامي افغانستان

از آنجائیکه واحد پول کشور افغاني میباشد و نه پول خارجي بناءً به تمام مسؤولین امارتي ، ماموریں ، قوماندانان امنیه ولسوالان ، علاقه داران و تمام هموطنان خبر داده میشود که خرید و فروش اموال و معاملات نقدي به اسعار خارجي بالخصوص کلدار بصورت قطع ممنوع است و در صورتکیه مسؤولین امارتي یا مردم عامه خرید و فروش اموال را با کلدار معامله نمایند و یا کسي از گرفتن بانکنوت هاي افغاني خود داري ورزد از طرف مسوولین امنیتي دستگیر میشوند و جزاي سنگین به آنان داده میشود.

در صورتیکه کدام هموطن مسلمان و دیندار ما آن عده اشخاصي را که به واسطه کلدار اموال را خرید و فروش نماید و یا با آن معامله کند مشاهده نماید به اساس وظیفه ایماني و وجداني خویش بصورت فوري به مسوولین امنیتي و یا پوسته هاي امنیتي اطلاع دهد.

سرمقاله



دلوي خداي (ج) په نامه

د کوکنارو په کرنه بشپړ بندیز او د نړیوالو مسؤولیتونه

په هیواد کی د نشه یی توکو د کرنی بندولو لپاره د عالیقدر امیر المومنین له خوا یو فوق العاده فرمان جاری شوی او ټینگار یی کړی چی د راتلونکی کال د پیل نه به په ټول هیواد کی د نشه یی توکو کرنه په بشپړ ډول بنده او غیر قانونی وی که څه هم له دی مخکی لا څو فرمانونه جاری شوی و چی په هیواد کی د کوکنارو د فصل بندیز او تر دریمی برخی راکمولو غوښتنه پکی شوی وه، خو دا ځل په دی هکله یو غوڅ گام واخیستل شو او ان شاء الله نور به ۲ مخ

شوراي امنیت ماموریت قطعات صلح در لبنان را تمدید نمود

شوراي امنیت سازمان ملل متحد ماموریت قطعات حفظ صلح سازمان ملل متحد را در لبنان تمدید نموده و از حکومت آن کشور خواسته است نیروي هاي بیشتري را در نواحي سرحدات لبنان و اسرائیل که از طرف واحد هاي اسرائیل تخلیه شده مستقر سازد.

شوراي امنیت سازمان ملل متحد میگوید نیروي پنجهزار نفري سازمان ٤ مخ

یک ملیون نفر کیوبایي علیه سیاست امریکا دست به تظاهرات زدند

در حدود یک ملیون نفر کیوبایي علیه سیاست ایالات متحده امریکا در قبال کیوبا دست به تظاهرات و اعتراض زدند. ٤ مخ

شریعت

د تأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کي (۳) کلداري
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات :٦۲۸٥۹
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

افغانستان له مخدره موادو څخه یو پاک هیواد وی دا چی دغه ضررناک بوټی ګردی بشری ټولنی ته څومره زیانونه رسولی، د لکونو وګړو روحی او جسمی روغتیایی له منځه وړی او نوری ډیری ټولنیزی ستونزی یی را پیدا کړی له هیچا پټه نه ده او هر سړی په دی ښه پوهیږی چی دغو شیانو انسانی ژوند ته څومره تهدیدونه پیښ کړی دی، خو دلته ستونزه دا وه چی تیرو دوه ویشت کلنو جګړو د هیواد ټول اقتصادی بنسټونه نړولی، د اوبه خور نظام او زراعت ته سخت تاوانونه رسیدلی او عام ولس له ډیرو اقتصادی مشکلاتو سره مخامخ شوی دی . له بلی خوا نړی والو هم چی د افغانانو دغه کړاوونه یی د سر په سترګو لیدل، په دی برخه کی خپل مسولیتونه تر سره نه کړل او د اقتصادی مرستو په لور یی هیڅ ګام وانخیست، په داسی حال کی چی نړی واله ټولنه معمولاً د هغو هیوادونو سره هم په دی برخه کی لویی لویی مرستی کوی چی ښه اقتصادی وضعیت لری، لکه چی څو ورځی مخکی امریکایی چارواکو د مخدره توکو د کنترول لپاره له کولمبیا سره د شپاړس سوه میلیونو ډالرو د مرستی اعلان وکړ، خو له افغانستان سره د یوی روپی مرسته هم ونه شوه، نو ددی لپاره چی یو خو اسلامی امارت په هیواد کی د یوی سوچه اسلامی ټولنی د جوړولو په ارمان دی او له بلی خوایی دا غوښتل چی په ناڅاپی ډول عوام د سختو مالی ستونزو سره مخامخ نه شی نو ځکه یی په تدریجی ډول په دی هکله ګامونه واخیستل، اوس اسلامی امارت له خلکو غوښتنه کوی چی باید سر له اوسه د متبادلی کرنی پروګرام جوړ کړی، د هیواد لومړنی اړتیاوی په نظر کی ونیسی او د کوکنارو د نوی فصل لپاره څه انتظام جوړ نه کړی .

اسلامی امارت په جدی ډول له ټولو کروندګرو غوښتنه کوی چی په دی هکله مثبت دریغ غوره او د تل لپاره له دغو شیانو لاس پریمینځی او هغه سیمی چی لا تر دی مهاله د مخالفینو تر کنترول لاندی دی د جګړی له منځه تلو سره سم به هلته هم ددغو مضروبوټو کرنه او پیداوار بند شی او بیا به هیچا ته هم دا اجازه نه وی چی یا د مخدره موادو په کرنه لاس پوری کړی او یایی په تجارت او سوداګری کی برخمن وی .

د هیواد کروندګر باید غنم، وریجی، جوار او نور خوراکی شیان وکری تر څو په ښه ډول د اقتصادی بندیزونو مخه ونیسی او هیوادوالو ته لومړنی اړتیاوی برابری کړی . مونږ یو ځل بیا نړی وال دواقعیتونو پیژندلو ته رابولو او په کلکه غوښتنه کوو چی باید په افغانستان کی ددی ډول مثبتو پرمختګونو سره ښه په زړه پوری مرسته وکړی او دا شان بشری موضوع دی د خپلو خاصو سیاسی اهدافو سره نه تړلوی، په کار ده چی د اسلامی امارت دا ډول کړه وړه په ښه شان تحلیل او تجزیه شی او ښه د اهمیت په سترګو ورته وګوری د پادونی وړ ده چی د نړی والی اقتصادی کلابندی سره سره بیا هم اسلامی امارت د عام ولس د آرامی او سوکالی لپاره ښه اغیزناک ګامونه اخیستی ټی چی په دی برخه کی همدغه د نشه یی توکو د بشپړ بندیز لپاره د عالیقدر امیرالمومنین همدغه وروستی فرمانونه یادولای شو خو دا چی نړیوالو په دی برخه کی خپلی دندی سرته نه دی رسولی او دلته یی هم د ځینو سیاسی ملحوظاتو خیال ساتلی او بایی د یو او بل مغرض هیواد په لمسونه افغانانو سره پریکړه کړی او مرستی ته یی نه دی رادانګلی، ددی پروګرام د وروسته کیدو باعث ګرځیدلی دی خو ان شاء الله افغانان به د خپلو متو په زور خپل ګران هیواد ودانوی او د هغه بوټو د کرنی مخنیوی به هم کوی چی له یوی خوا ټولنی ته تاوان رسوی او اخلاقی نیمګړتیاوی منځ ته راوړی او له بلی خوا په هیواد کی خوراکی پیداوارو د کمی باعث هم ګرځی .

د هیــواد د فرهنــګي فـــعالیتونو راپــورتاژ

د اطلاعاتو او کلتور وزارت په تعلیمي سیمینار کي، (۳)

د شریعت او ونیزی درنو لوستونکو!

تیره اوونی د اطلاعاتو او کلتور وزارت په زیار ددغه وزارت د اړونده رئیسانو لپاره یو روزنیز اووه ورځنی سیمینار دائر شو چی د هیواد د ۲۸ ولایاتو د اطلاعاتو او کلتور رئیسانو پکی ګډون کړی و .

زمونږ خبریال له فرصت نه په استفادی سره په نوموړو لایاتو کی د فرهنګی بهیر او فعالیتونو په اړه له محترمو رئیسانو سره مرکه کړی چی په ګډه یی لولو !

همدارنګ محترم مولوی شمس الدین صفور زمونږ له خبریال سره په مرکه کی د کونړ ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست د هاند او هڅو په هکله داسی څرګندونی وکړی :

د کونړ ولایت تشکیلاتی جوړښت په لاندی ډول دی : د باختر اطلاعاتی آژانس، د اسعد آباد عامه کتابتون د کونړ جریده او مجله، د کونړ راډیو او تلویزیون، د تارخی آبداتو اداره او د کمپیوتر اداره .

۱- د کونړ په ولایت کی د باختر آژانس اداره همدا اوس اوس فعاله او په ښو عصری تخنیکی وسایلو سمباله ده . ددی اداری له خوا د کونړ ولایت او شاوخوا سیمو مهم خبرونه او پیښی په لنډ وخت کی مرکز ته مخابره کیږی، د یادونی وړ ده چی په دغه ولایت کی د ادیبانو ، شاعرانو او فرهنګیانو غونډی او مشاعری وخت په وخت جوړیږی چی البته دا ډول غونډی د ځوانو ادیبانو شاعرانو او فرهنګیانو په سالمه روزنه او پالنه کی د قدر وړ او ستر رول لوبوی.

۲- په هیواد کی د اسلامی امارت تر واکمنی وروسته زمونږ په ښکلی او تاریخی ولایت کونړ کی یو لوی کتابتون تاسیس او د کتاب د مینه الو د تندی ماتولو په خاطر پرانیستل شو په دی کتابتون په پښتو، دری، عربی اردو او انګلیسی ژبو باندی لیکل شوی دینی، سیاسی، علمی ، ادبی طبی تخنیکی او تاریخی کتابونه شته او د کتاب د مینه والو په خدمت کی دی.

۳- د کونړ مجله چی په هرو دریو میاشتو کی یو ځل خپریږی، د ۱٤۱۹ هـ ق کال د شوال المکرم د میاشتی په لومړیی نیټه یی د اطلاعاتو او کلتور وزارت د محترم مقام له لوری نشراتی فعالیت منظور او په خپرونو یی پیل وکړ تر اوسه یی پنځه ګنی له چاپه راوتلی او د هیواد په دننه او بهر کی یی زیات شمیر مینه وال پیدا کړی دی ددغی مجلی د نشراتی فعالیت د لا ښه والی لپاره مو یو کمپیوتر او یو د چاپ ماشین پیرودلی چی د مجلی په کمپوز او نورو چارو کی ګټه ځنی اخلو . البته په نږدی راتلونکی کی به د کونړ جریدی نشراتی فعالیت هم پیل کړو .

٤- د کونړ ولایت د محلی راډیو د خپرونو د پیل کیدو په هکله مونږ زیاتی هڅی کړی باید ووایم چی زمونږ تخنیکی او فنی همکارانو تر اوسه پوری په دی برخه کی ډیر څه کړی خو د یو لړ تخنیکی ستونزو له امله او د کونړ ولایت د مقام له لارښوونی سره سم مو اوس دغه چاری ځنډولی دی.

٥- په افغانستان کی د اسلامی امارت تر واکمنی وروسته مونږ ټینګ عزم او کلکه اراده کړی چی هیچا ته به د په خپل سرکیندنو او د تاریخی آثارو د غیر قانونی او قاچاقی ډول را ایستلو او تجارت اجازه ورنه کړو که څه هم د اسلامی امارت تر واکمنی وروسته د ځینو بهرنیو لرغون پوهانو له خوا د اسعد آباد ښار ته څیرمه د چغان په غونډی کی یو لړ په خپل سرکیندنی وشوی خو ډیر زر دغی سیمی ته طالبان راورسیدل او ددی د غیر قانونی کار مخه یی ونیوله .

در ولایت باستانی جوزجان نیز همچو سایر ولایات کشور فعالیت های فرهنگی و کلتوری مسیر خود را طوری که شاید و باید پیموده است .

این مطلب را یکی از مسوولین ریاست اطلاعات و کلتور ولایت جوزجان در مصاحبه با خبرنگار ما اظهار داشته افزودند :

چار چوب تشکیلاتی ولایت جوزجان را مدیریت جریده «ډیوه» آژانس اطلاعاتی باختر، کتابخانه عامه، تلویزیون که فعلاً نشرات آن به تعویق انداخته شده است. مطبعه و سایر بخش های اداری تشکیل داده و به تعداد ۳٦ تن پرسونل ورزیده فنی و مسلکی و اداری وظایف محوله شان را به پیش میبرند.

جریده ډیوه ارگان نشراتی مقاء ریاست اطلاعات و کلتور ولایت جوزجان به همت مسوولین این ولایت بعد از یک وقفه طولانی مجدداً به فعالیت های نشراتی خویش آغاز نمود که در هر هفته یکبار با قطع و صحافت زیبا و مرغوب در چهار صفحه با تیراژ ۱۵۰۰ نسخه به لسان های پشتو و دری مضامین علمی، آموزشی، گزارش ها، مصاحبه ها اخبار مهم داخلی و خارجی را به نشر میسپارد. آژانس باختر نیز وظایف محوله خویش را به حسن صورت انجام میدهد و با شعبات ذیربط دیگر وسایل اطلاعات جمعی همکاری همه جانبه مینماید. همچنان کتابخانه عامه این ولایت با داشتن ۱۵۰۰۰ جلد کتب در خدمت علاقمندان مطالعه قرارداد . قابل یاد آوریست که در ولایت جوزجان یک باب مطبعه نیز فعالیت دارد که با وسایل و ماشین آلات مدرن طباعتی مجهز و مشکلات طباعتی این ولایت را به موقع مرفوع مینماید .

همچنان ولایت سرپل یکی از ولایات نو بنیاد افغانستان بوده و از نگاه داشتن سوابق فرهنگی یکی از ولایات باستانی کشور به شمار میرود. این مطلب را یکتن از مسولین ریاست اطلاعات و کلتور ولایت سر پل در مصاحبه با خبرنگار ما اظهار نموده افزودند : در چارچوب ریاست اطلاعات و کلتور ولایت سر پل مدیریت های آژانس وکتابخانه عامه ابو سلیمان جوزجانی شامل میباشد. در کتابخانه به تعداد ۱۰۰۰۰ جلد کتب غرض مطالعه هموطنان عزیز ما جابجا گردیده است.

مدیریت آژانس اطلاعاتی باختر نیز راپور ها، و خبر های مهم این ولایت را عند الموقع به مراجع ذیربط و ذیصلاح مخابره نموده وظایف محوله خویش را طوریکه شاید و باید انجام داده است.

د غزنی ولایت استازی هم په نوموړی سیمینار کی فعاله ونده درلوده، ده د غزنی ولایت د فرهنګی او کلتوری چارو د څرنګوالی په باب زمونږ له خبریال سره په مرکه کی داسی څرګندونی وکړی : د افغانستان له تاریخی او مشهورو ولایتونو څخه یو هم د غزنی ولایت دی چی د لرغونتوب او شهرت داستانونه یی له ډیرو پخوا زمانو څخه د خلکو په خولو کی دی او سینه په سینه له یوه نسل نه بل نسل ته پاتی شوی او تر اوسه پوری لا ژوندی دی. څرنګه چی د غزنی ولایت د تاریخ په اوږدو کی د مقتدرو شاهانو د پایتخت حیثیت درلود ځکه نو په دغه ولایت کی د سیمی د اوسیدونکو کلتوری او فرهنګی سویه لوړه ده او د لیکوالو او څیړونکو لپاره د یادونی وړ او ښه زیات خام مواد لری د شریعت غږ راډیو چی ۱۳٦۰ هـ ش کال یی په نشراتی فعالیت پیل کړی اوس هره ورځ یو نیم ساعت خپرونی لری دغه راز د سنایی په نامه یوه جریده هم د غزنی په ولایت کی فعالیت لری چی د لوستونکو او مینه والو شمیر یی زیات دی همدارنګه د البیرونی کتابتون چی له ۳۰۰۰ څخه زیات بیلا بیل کتابونه لری هم د کتاب د مینه والو په خدمت کی دی دغه راز د غزنی په ولایت کی یوه مطبعه هم فعالیت لری او تر زیاتی اندازی پوری ددی ولایت طباعتی چاری سرته رسوی.

د غزنی په ولایت کی ګڼ شمیر تاریخی آثار شته چی ددغه ولایت په موزیم کی ساتل کیږی او د تاریخی آبداتو په باب باید ووایم چی د سردار تپه، د سلطان مسعود قصر او منار، د سلطان محمود منار او نور د یادونی وړ دی.

همدارنګه په دغه سیمینار کی د ارزګان ولایت د طالاعاتو او کلتور رئیس محترم ملا محمد هاشم په دغه ولایت کی د کلتوری او فرهنګی چارو د څرنګوالی په اړه زمونږ له خبریال سره په مرکه کی داسی وویل : ارزګان چی د افغانستان له تاریخی ولایتونو څخه دی په دی ولایت کی یو مجهز کتابتون چی له ۱۰۰۰ تو که څخه زیات کتابونه لری وجود لری.

همدارنګه د ارزګان ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست خپل ټول راپورونه د نظامی او ملکی مخابرو په وسیله د کابل او کندهار راډیو ګانو ته مخابره کوی. د تاریخی آبداتو په باره کی باید ووایم چی د ارزګان ولایت د مرکز ختیځی خوانه یوه ډیره لویه تاریخی کلا په پاخه تهداب سره جوړه شوی چی په څلورو کنجو کی یی لوی لوی برجونه د عظمت ښکارندوی دی.

همچنان محترم مولوی سلطان محمد یوسفزی رئیس اطلاعات و کلتور ولایت کندز در مورد چگونگی فعالیت های فرهنگی و کلتوری در آنولایت در مصاحبه با خبرنگار ما چنین توضیحات ارائه داشتند :

در ولایت کندز پس از پیروزی و استقرار نظام عدل گسترده امارت اسلامی با وجود کمبود امکانات، کار های ارزشمندی در راستای شگوفایی عرصه های مختلف مطبوعات و فرهنگی صورت پذیرفته است که ره آورد های محسوس در این زمینه را مختصراً به عرض میرسانم :

یکی از عرصه های مهم ریاست اطلاعات و کلتور ولایت کندز رادیو صدای شریعت است که با ارائه و پخش برنامه های جالب در خدمت هموطنان قرار دارد در چارچوب پلان نشراتی رادیو صدای شریعت بر علاوه اخبار، اعلانات و تبصره های سیاسی برنامه های گوناگون دینی، اجتماعی، ادبی و ذوقی گنجانیده شده است همه روزه دو برنامه به زبان های پشتو و دری به نشر میرسد که وقت هر کدام پانزده دقیقه میباشد. نشرات ما به ساعت ۷ بجه شام آغاز و الی ۸ بجه شب برای یک ساعت ادامه پیدا میکند. جریده کندز که از مدت زمانی بدینطرف بنا بر نبود امکانات تخنیکی به صورت بولتن به نشر میرسید اکنون تحت عنوان مجله کندز با قطع و صحافت زیبا و طرح و دیزاین مرغوب و دلکش به چاپ میرسد نخستین شماره ان در ماه صفر المظفر سال روان طبع و بدسترس شیفته گان و علاقمندان ادبیات و فرهنگ و دوستداران مطبوعات قرار گرفت .

این مجله در دو ماه یکبار اقبال چاپ میابد و محتوای آن را مضامین و مطالب دلچسپ و خواندنی دینی، ادبی، سیاسی، فرهنگی و علمی تشکیل میدهد . مطبعه ولایت کندز با وصف کمبودات و کاستی ها توانسته است که فرمایشات و خواسته های ادارات امارتی و سکتور خصوصی را به وجه احسن بر آورده سازد . اخیراً کار احیای مجدد کتابخانه عامه نیز آغاز گردیده و عنقریب مورد استفاده کتاب دوستان قرار داده خواهد شد.

همچنان در مواقع و موارد خاص محافل مشاعره را در سطح ولایت کندز براه انداخته ایم که در ضمن ان شاعران و فرهنگیان این ولایت با شورو علاقه خاصی اشعار خویش را به خوانش گرفته اند.

قابل یاد آوریست که اداره، آژانس اطلاعاتی باختر به مشابه یک آژانس خبری با وصف کمبود وسایل و محدودیت های دیگر فعالیت داشته و اخبار و وقایع مهم این ولایت را به مرکز مخابره مینماید. همچنان وسایل اطلاعات جمعی این ولایت را نیز از آن بهره مند میسازد. به هر منوال چون کار در جهت تحقق اهداف عالی فرهنگی امارت اسلامی وظیفه ماست لذا ما وعده و تعهد میسپاریم که دراین زمینه از هیچگونه کوشش و بذل مساعی دریغ نخواهیم ورزید.

ادامه دارد

د قیامت نښه

لویدیز د نویو اختراعاتو او اکتشافاتو د اجاره داری په ستیج ښه په نره قبضه لګولی لګیا دی په پر بر وایی چی د بشری ښیګړی لپاره هر کال نوی ماډل اسانتیاوی را منځ ته کوی، د انټرنیټ په برکت یی ګرده نړی سره نښلولی او د ګلوبل ویلج او کمپیوتر جال یی پر ټوله نړی غوړولی دی. هغه موچی کافران او سر کوزی ګڼی هم زموږ د مغزو او لاسونو جوړ وسایل او اسانتیاوی کاروی، خوند تری اخلی، نشی تری صبریدی او ددغه جادو پروراندی په دواړو لاسونو تسلیم دی.

دوی وایی موږ ټوله نړی یو کور ګرځوو، په ریموټ کنټرول له دفتر او بستری نه د باندی چاپیریال اداره کوو.

څو ورځی د مخه په اسلام آباد کی د یوه پخوانی صیب او اوسنی سیټ میلمه وم، ګرمی داسی خوله لګولی وه چی غابښ یی له سری پوری اوری ختل، تکنده غرمه وه سیټ صیب زه د خپلی ځانګړی کوټنی ور وبللم، ویل یی د وړی په د باندی ستا د خوښی په کوم هوټل کی خورو، له جیب نه یی یو وړوکی څیز چی کلی بند ته ورته و راویوست، ګوتی یی پری ووهلی، یو دوه شنه غمی یی بل شول څو شیبی وروسته یی یوه کړم چی پاڅیږه، راووتو، لنډ کروز چالان و، دروازه مو بیرته کړه، ایرکندیشن لګیدلی او ښه سوړ و.

ماویل جناب! موټر مو په دم چالان کړ که څنګه؟ وبی ویل پیریانو ته غږنی څه دی، څه پوه شوی؟ بوویشتمه پیړی ده هر څه په ریموټ کیږی د کوپ او چوپ وخت تیر شوی،

ددغی اسانتیاوو جوغه د لویدیز په څټ لګیدلی، موبایل (ګرځنده) تیلفون ددغی اسانتیاو بله بیلګه ده چی سیټ صیب له موټره پری د سیاست او تجارت د واړو لاربیوونه کوله.

د لویدیز دغه جادو په څوک نه منی جاپان اسیایی هیواد دی، وایی چی افغانستان او جاپان په یوه ورځ ازادی تر لاسه کړی، د نوی کال ماډل موټر یی چی څنګه له کارخانو راووځی تیرونه یی د افغانستان په کنډو کپرو سرکونو لګیدلی وی، په یوه کال د ازادی ګټلو خپلوی همداسی وی.

که دغو موټرانو عقل او شعور لرلی او خبری یی کولای ښایی په دغه ظلم او تیری چی ور سره کیږی

اسمانونه هم ژړولی وای او څو ځاځکی باران په موږ ګنهګارو هم اوریدلی وای دغه موټران چی سړی په جګړه ځپلی او د ځرکیار خبره ګرېیدلی افغانستان کی ګوری ګومان کوی چی کوم بهرنی هیواد په خوب وینی خو چی کنډو کپرو سرکونو او سوالګرو ته یی وګوری د ویښی په دغه خوب په سرو سترګو ژاړی،

خبره د لویدیز د نویو اختراعاتو وه هغه هم د موبایل (ګرځنده) اسانتیاوو په کومه خپرونه کی می لوستل چی موبایل کوروته او رستورانونه ډیر کامیاب وختل او کمپنیو یی ډېره ګټه وکړه، خو لویدیز زموږ لپاره موبایل جمهور رئیس او ولس مشر اختراع کړی چی پلاز مینه یی نشته، په غرونو او سمڅو کی لالهانه دی خو د جمهور رئیس نوم پری نښتی دی.

ددغه اختراع تاج به د چا په سر د کېښودلو وړ وی، ښکه چی بیا هم لویدیز ددغه اعزاز مخکښ دی، ځکه همدغه موبایل جمهور رئیس چی د ناستی او شپی تیرولو ځای نلری په رسمیت پیژنی او استازی ته یی ملګرو ملتونو په سر سترګو ځای ورکړی،

دا یوه نوی پرمختیا ځکه ده چی خلک له دی کړاونه ژغوری چی جمهور رئیس او ولس مشر ته ورشی، وخت تری واخلی او بیا خپل عرض او داد وروړسوی،

د موبایل او ګرځنده جمهور رئیس ښیګړه همدا ده چی ځای ځایګی یی نه وی او ګرځنده برخلیک ولری ښایی لویدیز یی یوه داسی اختراع وبولی چی د احسان بار یی پر دریمه نړی یا نیغ په نیغه افغانانو واچوی چی دوی ته یی د موبایل اسانتیاوو د برابرولو په لړ کی ګرځنده جمهور رئیس په اختراع نازولی دی.

موږ دیر موبایل وسایل لیدلی خو د موبایل ولس مشر مو نه اوریدلی او نه لیدلی ښایی دا به د لویدیز کومه نوی تجربه وی، مخکی به دغسی تجربی پر سپو او موږکانو کیدی، قضا ته هم له انسان د مخه ددغسی تجربی په بنیاد سپی استول شوی، ګاګارین بیا وروسته دغه سفر ته زړه ښه کړ، خو اوس دغسی تجربی پر انسانانو هغه هم جمهور رئیسانو کیږی، که نه نو د ولس مشرانو له سیالی خو هغه جناب هسی هم پاتی دی.

پاتی ښکه دی چی نه یی څوک په مړی کی پوښتی نه په ژوندی کی.

د حافظ الاسد جنازی ته د ګردی نړی مشران ورغلی و، خو موبایل جمهور رئیس له خپل ګرځنده امتیاز سره بیا هم په دغه سیالی کی پاتی راغی.

وایی یو څوک چا د خپل پلار خیرات ته نه و غوښتی، ده ځان په دی ډاډه کاوه: خیر دی زما پلار به هم خدای مړ کا.

مرګ له هر څه سری ته نژدی دی که د موبایل ولس مشر سترګی پټی شوی صلاح الدین به ضرور له بشار اسد نه دغه غچ اخلی.

زمانه به ولی اخره نه وی، اوس خو پنځه ویشت کاله تیر شوی که نه نو پنځه ویشت کاله د مخه یوه ستا نه غوندی سړی دا خبره په ډیر باور سره کوله: وخت آخر دی توبی کاږی، د قیامت نښی په څرګندیدودی نه پوهیږم هغه به پنځه ویشت کاله وروسته د قیامت نښی څه ګڼلی خو که اوس ژوندی او د موبایل جمهور رئیس یی اوریدلی وای ضرور به یی د قیامت ستره نښه ګڼلی وه.

لیکوال: دکتور عبدالرحمن رافت باشا — ژباړن: بشار — ۹

د اصحابو د ژوند پلوشي

عمیر بن وهب

عمیر بن وهب الجمحی د بدر څخه روغ رمټ ستون شو مګر خپل زوی وهب یی د مسلمانانو په لاس کی بندی پریښود.

عمیر له دی څخه ویره کوله نه‌چی مسلمانان هغه د پلار په ګناه ونیسی او د هغو ربړونو په مقابل کی چی رسول الله «ص» او د هغه ملګرو ته یی رسول په سخت عذاب یی اخته کړی.

یوه ورځ ځاښت، عمیر د کعبی د طواف او د بتانو د تبرک په غرض مسجد ته لاړ، ګوری چی هلته صفوان بن امیه د حجر تر څنګه ناست دی نو هغه ته ورغی او ورته یی وویل: ستا سبا دي په خیر وي اي د وهب پلاره! کښینه چي یو ساعت خبری وکړو ځکه وخت په خبرو تیریږی، عمیر د صفوان بن امیه سره کښیناست، او دواړه د بدر د پیښی او د هغی د سختو مصیبتونو په یادولو کی شول، او د بندیانو په باب یی چی د محمد «ص» او د هغه د ملګرو په لاسونو کی بندیان پریوتی و خبری کولی، او د قریشو د هغو مشرانو په باب یی چی د مسلمانانو په تورو وژل شوی و او د بدر د چاه تل ته غورځول شوی و خپله همدردی ښودله.

صفوان بن امیه سوړ او سیلی له خولی وویست او ویی ویل: په خدای سوګند، د هغو څخه وروسته په ژوند کی څه خیر نشته. عمیر وویل: په خدای سوګند،تا رښتیا خبره وکړه بیا لږ شانتی چپ پاتی شو، او بیایی داسی وویل: زما دی د کعبی په رب سوګند وی که په ما باندی پوروته نه وای او د ځان څخه می وروسته د خپلی کورنی د ضایع کیدلو غم را سره نه وای نو زه به محمد ته ورغلی وای، او د هغه کار به می سرته رسولای وای او د هغه د شر علاج به می کړی وای، بیایی په ورو وویل: دا چی زما زوی وهب د هغو سره دی نو یثرب ته زما په تګ کی څه شبهه نه پیدا کیږی.

صفوان بن امیه د عمیر بن وهب خبره واره داره وګڼله، او ویی غوښتل چی دغه موقع د لاسه یی ونه وځی نو عمیر ته یی مخ واړوه او ورته یی وویل: ای عمیره خپل ټول پور ماته پریږده، زه به ستا پور که هر څومره وی ورکړم، او هر څه چی ستا کورنی ده هغه به د خپلی کورنی سره یو ځای وساتم، او څو چی زه ژوندی یم او ستا کورنی ژوندی ده زه به خپلی ښیګڼی ورسره جاری ولرم. او زه ډیر مال لرم چی هغه د ټولو لپاره بس دی، او د ښه ژوند پوره ډاډ ورکوی.

عمیر وویل: اوس نو دغه خبره پټه وساته، او هیڅوک ورباندی مه خبروه.

صفوان وویل: ستا لپاره همدغه ذمه واری منلی شوی ده.

عمیر له مسجد څخه ووت، او د هغه په زړه کی د محمد «ص» په باب د کینی اور لمبی وهلی، او د خپلی نقشی د سرته رسولو لپاره یی تیاری نیوه، او پخپل سفر کی یی د شک کولو ویره ورسره نه وه ځکه د قریشو د بندیانو څښتنان د خپلو بندیانو د فدیی ورکولو لپاره یثرب ته تګ او راتګ کاوه.

عمیر بن وهب امر وکړ چی د هغه توره دی تیره شی، او د زهرو اوبه دی ورکړل شی د عمیر دغه غوښتنه ترسره شوه او بیایی خپل سورلی راوغوښت، او ورته په مخکي سنبال ودرول شو، او بیا وربانذی سپور شو او د مدینی په لوری روان شو، او زړه یی له کینی او شر څخه ډک و.

عمیر مدینې ته ورسید، او بیا د مسجد په لوری روان شو او مقصد یی رسول الله «ص» و.

عمیر د سبا لخوا مسجد ته لاړ، او خپل اوښ یی د مسجد تر څنګه چوکړ، او ورڅخه کوز شو په دغه وخت کی عمر بن الخطاب «رض» د ځنو اصحابو سره د مسجد دروازی ته نژدی ناست و او پخپلو منځو کی یی د بدر په باب خبری اتری کولی او د هغو خبری د قریشو د بندیانو او د هغو د وژل شویو کسانو، د مهاجرو او انصارو مسلمانانو د میړانی د څرنګوالی، د الهی نصرت، او د دښمن د عذاب او نا امیدی په باب وی.

بیا یو نا ځاپه د عمر نظر په عمیر بن وهب ولګید چی هغه د خپل سورلی څخه راښکته کیږی، او د مسجد په لوری توره په غاړه رروانیږی نو عمر له ډاره له خپل ځای څخه پورته شو او ویی ویل: دغه سپی د خدای دښمن عمیر بن وهب دی... په خدای سوګند، دی د شر لپاره راغلی نه د بل څه لپاره، ده په مکه کی پر موږ باندی مشرکان راپارولی دی، او د بدر څخه لږ څه مخکی د مشرکانو جاسوس و. بیا عمر خپلو ناستو کسانو ته وویل: تاسی رسول الله «ص» ته ورشی، او د هغه په شاو خوا کی واوسی، او پام کوی چی دغه ناولی مکرجن د هغه په باب خیانت ونکړی. بیا عمر ژر حضرت پیغمبر «ص» ته ورغی او ویی ویل: ای د خدای رسوله دا د خدای دښمن عمیر بن وهب دی، هغه توره په غاړه راغلی دی او زه ګمان کوم چی هغه د شر اراده لری حضرت پیغمبر «ص» وویل: هغه ماته راوله فاروق عمیر بن وهب ته خپل مخ وګرځاوه، او هغه یی له ګریوان څخه ونیو او د توری د تیک تسمی یی د هغه له غاړی څخه تاوی کړی، او رسول الله «ص» ته یی ویوړ. کله چی حضرت پیغمبر «ص» عمیر په دغه حالت ولید نو عمر ته یی وویل: ای عمره! هغه پریږده.

بیایی ورته وویل: د هغه څخه وروسته شه.

عمر ور څه وروسته شو بیا حضرت پیغمبر «ص» عمیر ته مخ وګرځاوه او ورته یی وویل: ای عمیره! را نژدی شه عمیر ور نژدی شو او ورته یی وویل: ـــ سبا دی په خیر.

پاتي لري

ملګري ملتونه که د صهیونستي ګټو د تحفظ اداره

که چیری ملګری ملتونه د ماضی او حال د کار کردګی په هنداره کی ولیدل شی نو دغه حقیقت به په ښکاره توګه روښانه شی چی دغه موسسه په اصل کی د یهودو د بین المللی ګټو د ساتنی یوه منظمه اداره ده څنګه چی ددی څخه تر مخه لیګ اف نیشنز یا د قامونو ټولنی د صهیونی خوځښت د پرمختګ، نشو نما او داخلی او خارجی استحکام لپاره وظیفه سرته رسوله او د عثمانی خلافت په نړولو سره یی په فلسطین کی د اسرائیلو په نامه صهیونی حکومت د قیام لپاره لاره هواره کړه همدارنګه د قاموتو ټولنی یا د لیګ آف نیشنز زیږنده اداره (ملګری ملتونه) هم د صهیونیستی اهدافو تر سره کولو لپاره لوی رول لوبوی او د نړی په هر ګوټ کی د یهودو غیر اخلاقی، غیر انساني او غیر قانونی سرګرمیو ته د قانونی تحفظ زمینه برابروی د اسرائیلو د قیام څخه نیولی تر عرب اسرائیل جنګونو، پر بیت المقدس د صهیونستانو قبضی او د فلسطینیانو تر عامی وژ نی پوری په ټولو پیښو کی ملګرو ملتونو د یهودی ایجنټ په توګه وظیفه سرته رسولی. چیری هم چی اسرائیلی ګټوته د نقصان رسیدو خطر وی نو داسی سازښونه ورته جوړوی تر څو چی د اسرائیلی ګټو ساتنه وشی، که چیر په خلیجی بحران باندی نظر واچول شی نو دا حقیقت به خامخا څرګند شی چی دلته د وینی او اور ډرامه د کویت د ازادی لپار نه بلکی د یهودی حکومت د اسرائیلو د نظامی ټینګښت پخاطر د عراق د مخ په زیاتیدونکی پوځی طاقت د ختمولو لپاره و کوم چی د ملګرو ملتو د اداری په ذریعه په نوموړی سیمه کی د مسلمانانو ګټو ته د نقصان رسولو او د یهودی ګټوته د فایدی رسولو کوښښ وکړی شو په کومه کی چی امریکا، فرانسه برطانیه، جاپان او نور اتحادی هیوادونه شریک و.

تر کومه چی د مسلمانانو د ستونزو خبره ده، یا خو یی له سره څوک د بحث لاندی نه نیسی او که څوک یی نیسی هغه هم تر کاغذ وپوری منحصره وی د بیلګی په توګه دفلسطین پر مسئله د ملګرو ملتونو د قرار دادونو یو انبار «ډیری» بالخصوص د ۱۹۶۷ د عربو او اسرائیلو په جنګ کی نیواکی سیمو څخه د اسرائیلو انخلا او داسی نور قراردادونه.

د شرقی تیمور او کشمیر یوه ستونزه وه بلکی په ختیځ تیمور کی ستونزه خود ساخته وه لیکن د ملګرو ملتونو پالیسی چی هلته د عیسایانو مسئله وه

په څو اونیو کی امنیت شورا، او مرکزی اسامبلی حل کړه او د کشمیر مسئله چی د مسلمانانو ۵۳ کلنه پخوانی ستونزه ده بالای طاق ایښودله شوی او څوک پری بحث کولو ته هم تیار ندی.

محمد الله «نورستاني»

د پرتنیو حقایقو څخه به ګرانو لوستونکو ته دا خبره ښه روښانه شوی وی چی د ملګرو ملتونو ټولنه څنګه د یهودی ګټو محافظه ده، لیکن بیا هم ددغی ټولنی د ځهری څخه د لا زیاتی پردی لری کولو پخاطر یو څه لیکل ضروری بللی شی.

څرنګه چی یهود پخپله اعتراف کوی چی دغه ټولنه یوه صهیونی اداره، او د نوموړی ټولنی ټولی څانګی او اداری د یهودی ګټو د تحفظ لپاره کار کوی او د ملګرو ملتو د لس ګونو ادارو چارواکو پخپله یهودیان دی.

* د نیویارک مشهور وکیل هنری کیلن پخپلی یوی مقالی کی چی صهیون پردنیا حکومت کوی یا د نیویارک چاپ ۱۹٤٦ په یوه نشریه کی لیکی: ملګری ملتونه صهیونیست دی دا یو داسی فوق العاده حکومت دی او ددی اظهار څو مرتبی په هغو پوروتوکولونو کی شوی کوم چی په ۱۸۹۷ او ۱۹۰۵ کی خلکو ته رسول شوی.

د ملګرو ملتونو په مرکزی سکرتریت کی د ۲۲ حساسو او لوړ اهمیت لرونکو ځانګو چارواکی هم یهود دی.

د ملګرو ملتونو زده کړی، ساینس او د ثقافت تنظیم یونیسکو د ۹ اهمو شعبو مشران یهودیان دی.

د نوموړی ټولنی د نړیوالی کارګری اتحادیی څانګی ILO لږ تر لږه د دریو ځانګو مشران یوا ځی دا نه چی یهودان دی بلکه د نوموړی ټولنی اکثره چارواکی د یهودو تعلق لرونکی دی. د نړیوال بانک او نورو بین المللی مالیاتی ادارو او داسی نورو ادارو په ترتیب سره د ۶ او ۹ ځانګو جګ پوړی چارواکی د یهودو نړیوال تنظیم سره تعلق لری. دا و د ملګرو ملتونو د اداری صهیونیستوب ثبوت کوم چی پورته ولیکل شو. ایا د انصاف خوښوونکو قومونو او د اسلامی نړی د چارواکو لپاره ددغی بی وسی او جانبداری صهیونیست خواه اداری، د دی بی روحه جثي ته د زیات انتظار ضرورت شته؟ نه هیڅکله، نه، ځکه نو د اسلامی نړی چارواکو ته په کار ده چی د نړیوال اسلامی یووالی په جوړولو سره ددغی بی روحه جثی په تغر ټولولو سره خپل وسایل پکار واچوی او د خپلو حقوقو څخه ددفاع په خاطر د بشری حقوقو یوه نړیواله اسلامی اداره جوړه کړی او نور د یهودو، هنودو او نصاراو په نامه ددی انساني حقوقی ادارو، سیل بین او آله کار ونه ګرځی او د خپلو حقوقو د ساتنی لپاره خپلی ملاوی وتړی.

عنقریب دو حلقه چاه ...

و جاني مراجه ساخته است .

شهر کابل که تعداد مسکونین آن در حدود ۱.۸ مليون نفر تخمين ميگرد از تاثيرات خشکسالي جاري دور نمانده و از قلت و عدم موجوديت آب آشاميدني صحي رنج ميبرند.

کاريز هاي قرغه که اب مورد ضرورت زون دوم (ساحات کارته پروان ،کارته آريانا، کارته مامورين و باغ بالا) را فراهم مينمود اکنون بکلي خشك گرديده و اهالي ساحات متذکره از آب آشاميدني صحي محروم ميباشند.

رياست تصدي آبرساني و کاناليزاسيون منحيث يگانه مرجع اجراي خدمات آبرساني که مسوليت رسانيدن آب آشاميدني در شهر کابل و ولايات را به عهده دارد تدابير عاجل مبْني بر اتصال مخزن ۱۰۰۰۰ متر مکعب پروژه انشار را به شبکه زون دوم روي دست گرفته و با امکانات نا چيز دست داشته خويش ۵۰ فيصد کار پروژه متذکره را انجام داده در نظر است ۵۰فيصد کار باقيمانده را درآينده نزديك به پايه اکمال برسانند. همچنان بخاطر حل اساسي و دايمي معضله آب آشاميدني زون مذکور قرار داد مبني بر حفر دو حلقه چاه عميق في مابين رياست تصدي آبرساني و کاناليزاسيون و موسسه خيريه اطفال جنگ زده عقد گرديده که اميد در مدت دو ماه کار ساختمان پروژه مذکور به پايه اکمال برسد.

موصوف علاوه کردند : طي سال ۱٤۲۱ براي ۱٦۸ خانه و ۱۰ نل عامه و ۳ موسسه امارتي که تعداد مجموعي استفاده کنندگان آن به ۱۷۱ نفر ميرسد آب آشاميدني صحي توزيع گرديده است.

وي افزود : در مورد حفر دو حلقه چاه عميق موسسه خيريه اطفال جنگ زده قرار داد را با رياست تصدي آبرساني و کاناليزاسيون عقد و بتاريخ ۱٤۲۱/٤/۲۲ آغاز نموده است.

موصوف مي افزايد : طوريکه معلوم است اکثريت شبکه هاي آبرساني شهر کابل دوره استهلاك خود را پيموده و از جانبي هم از اثر جنگ هاي اخير به سيستم آبرساني و تاسيسات آن خسارات بزرگي وارد گرديده که باز سازي آن پول هنگفت و امکانات تخنيکي وسيع را ايجاب مينمايد که در شرايط کنوني بدون همکاري اقتصادي و تخنيکي کشور ها و موسسات خيريه بين المللي درچوکات امارت اسلامي افغانستان نا ممکن به نظر ميرسد.

چون عرضه خدمات آبرساني از جمله خدمات عام المنفعه بوده ايجاد سيتسم جديد آبرساني و ترميم شبکات موجود بدوش امارت اسلامي بوده از نظر تصدي آبرساني اهالي شهر کابل درين مورد کدام مسووليت معين و مشخص ندارد.

دراخير محترم رئيس تصدي آبرساني و کاناليزاسيون پيغام اساسي خويشرا براي شهريان کابل چنين ارائه داشت : پيغام اساسي مسوولين رياست تصدي آبرساني براي باشنده گان عزيز شهر کابل عبارت است از :

الف - حفظ و نگهداشت نلهاي ايستاده عامه .

ب - صرفه جويي در مصارف آب و جلوگيري استفاده از اب مشروب صحي درعرصه هاي ديگر چون، آب پاشي،صحن حويلي، موتر شويي ، آبياري زراعت و چمن ها و غيره .

ج - تحويلي به موقع محصول نل آب مطابق مقرره آبرساني.

په جاپان کي ...

جاپان کی د روانی میاشتی په بهیر کی د وزگارو کسانو شمیر څه د پاسه دریو ملیونو تنو ته رسیدلی دی په عین حال کی جاپانی مقاماتو اعلام کړی دی چی په دی موده کی ددغه هیواد صنعتی تولیدات په سلو کی یو اعشاریه اووه زیات شوی دی.

يك مليون نفر ...

تظاهر کننده گان به مناسبت سالگرد انقلاب کيوبا خواهان پايان دادن به تحريم اقتصادي چهل ساله ايالات متحده امريکا عليه کيوبا شدند.

تظاهرات مذکور توسط فيدل کاسترو رئيس جمهور کيوبا رهبري ميشد.

دو تن از نماينده گان مجلس ايالات متحده امريکا :

خواستار جلوگيري از اعلام دولت مستقل کشور فلسطين شدند

دو تن از نماينده گان مجلس ايالات متحده امريکا با ارائه پيشنهادي خواستار جلوگيري از اعلام دولت مستقل کشور فلسطين شدند.

در صورت تصويب اين پيشنهاد هر گونه کمك به فلسطيني ها قطع خواهد شد و افتتاح قونسلگري ايالات متحده امريکا در کشور مستقل فلسطين ممنوع خواهد بود.

اين دو نماينده همچنين از رئيس جمهور ايالات متحده امريکا خواسته اند به نماينده دايمي آنکشور در سازمان ملل متحد دستور دهد از تمام امکانات براي جلوگيري از پذيرش دولت فلسطين در سازمان ملل متحد يا ادارات وابسته به آن سازمان استفاده کند.

بشمول دو ميدان ...

در اثر تجاوز روسها بر افغانستان و جنگ هاي ذات البيني گروه هاي مسلح در دوران رژيم ائتلافي رباني نود فيصد خساره مند گرديده بود بالاثر توجه امارت اسلامي و تلاش هيأت رهبري وزارت هوانوردي و توريزم به مصرف هشت و نيم هزار لك افغاني از بودجه ا.ا.ا دو باره احيا و باز سازي گرديده است.

محترم ملا اختر محمد منصور وزير هوانوردي و توريزم در اين بازديد از تاسيسات ساختمانها و دستگاه هواشناسي ميدان هوايي متذکره در حاليکه برخي از مسؤولين ولايت کندز با وي همراه بودند از نزديك ديدن نموده و جهت تسريع امور به مسؤولين مربوط رهنمايي سودمند داد .

يك منبع وزارت متذکره گفت : ميدان هوايي کندز فعلاً با تمام وسايل تخنيکي و تجهيزات فني مجهز گرديده و خط پرواز يا رنوي طيارات به شکل فني و اساسي اسفلت گرديده است . منبع علاوه نمود در شرايط فعلي به سطح کشور دو ميدان هوايي بين المللي و دوازده ميدان ملکي فعال بوده و هشت فروند طياره ملکي به خاطر انتقال مسافرين در خطوط هوايي مرکز الي هرات، کندز ، هرات، کندهار، جلال آباد ، مزار شريف ، ميمنه و کندز همه روزه فعاليت داشته و با استفاده از فضاي آرام و مطمئن در کشور در يك شبانه روز ۸۵ پرواز از فضاي هواي افغانستان صورت ميگيرد.

د کشمیري مسلمانانو ...

کشمیر د مسلمانانو له خپلواکی غوښتونکی مبارزی سره په ملاتړ ژمن دی .

جنرال پرویز مشرف په اسلام اباد کی د بهرنیو هیوادونو د سفیرانو په کنفرانس کی وویل د پاکستان د بهرنی سیاست د عدالت وروروولی او همکاری پر بنسټ تکیه لری.

ده وویل د پاکستان اسلامی جمهوریت تل د خپرو اترو له لاری د کشمیر د قضیی د حل او فصل غوښتونکی دی.

د کشمیر د قضیی په سر د پاکستان د اسلامی جمهوریت او د هند تر منځ دری پنځوس کلن اختلاف ددغو دواړو هیوادونو تر منځ دری ځلی د جګړو سبب شوی دی.

شوراي امنيت ...

ملل متحد براي شش ماه ديگر يعني تا سي و يکم ماه جنوري سال آينده ميلادي در لبنان باقي خواهد ماند.

ضمناً تيري لارسن فرستاده خاص سازمان ملل متحد به لبنان ميگويد هنوز آثار تجاوز اسرآئيل به لبنان در يک منطقه بر طرف نشده که آنهم در دست اصلاح ميباشد.

ديروز کمک کننده گان بين المللي در مورد باز سازي جنوب لبنان به توافق رسيدند.

چين و روسيه ...

تسليحاتي ايالات متحده امريکا باعث بي ثباتي در بعضي کشور ها ميشود.

وزير خارجه روسيه گفت برنامه ضد راکت هاي بالستيك ايالات متحده امريکا بار ديگر مسابقه تسليحاتي در جهان را تشديد خواهد کرد.

د ديني عالمانو ...

شو .

د عيني شاهدانو د څرګندونو له مخی د تخار ولايت علمای کرام سپين ږيری او خلک د مسعود او د هغه د تور زرو توپکيانو پر خلاف د احتجاج په توګه مسعود ته ورغلل او له قيد او شرط پرته يې د دغه عالم د خلاصون غوښتنه وکړه . چی له نيکه مرغه د علمای کرامو د ميرانی او د تخار ولايت د خلکو د فشار له امله د تخار ولايت خردمند عالم چی تل يې په باطل باندی حق غوره باله او د خلکو په وړاندی يې خپل ديني او هيوادنی مکلفيتونه تر سره کول له زندان څخه ازاد شو .

عيني شاهدانو زياته کړی ده هغه عالمان چی د حقايقو په تبليغولو او د خلکو د ذهنيتونو په روښانه کولو لاس پوری کوی تل د ياغی توپکيانو تر ګواښ لاندی نيول کيږی.

دغه راز خبرځای زياته کړه چی د تخار په ولايت کی زياتره علمای کرام په دغه ولايت کی له اختناق ډکی واکمنی فضا له امله د نه مصؤونيت احساس کوی.

هرڅوك چي زمونږ ملي ...

ددغی کتنی په پيل کی د پاکستان په اسلامی جمهوريت کی د افغانستان د اسلامي امارت محترم سفير په افغانستان کی اوسنی حقايق او جريانات بيان کړل او داړمن امنيت د تامينولو د جوونی او روزنی د سطحی د لوړولو د ټولنيزو فرهنګی او اقتصادی خدمتونو په پراختيا او د هيواد د بيا جوړونی د بهير د چټکتيا په باب د افغانستان د اسلامی امارت ارزښتونه جوت کړل او ويی ويل چی د سيمی د مغرضو هيوادونو له لاس وهنو سره سره چی د افغانستان اسلامی امارت په خلاف د جګړی د دوام په لاره کی هلی ځلی کوی د افغانستان اسلامی امارت په دی بريالی شوی دی چی خپلی واکمنی لاندی سيمو کی د افغانستان د خلکو د نيکمرغی او سوکالی زمينی برابری کړی .

دغه راز په دی کتنه کی د واړولورو د اندونيزيا او افغانستان تر منځ د اړيکو په باب چی په افغانستان کی د کمونستانو د واکمنی په دوران کی شلېدلی وی خبری وکړی او د دواړو هيوادونو د خلکو تر منځ يې د لرغونو او تاريخی اړيکو په ټينګښت او پراختيا باندی ټينګار وکړ په دی کتنه کی دواړو خواو د افغانستان د مسئلی د سوله ئيز حل په باب د اسلامی امارت د سوله ييز دريځ په باره کی هم خبری اتری وکړی .

د ګډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150

محترم وزير امور خارجه ...

روسها با افغانهاي هموطن خود مي جنگند ايکاش آنان از تعقل کار بگيرند آنچه که ا.ا.ا ميخواهد آنست که مداخله خارجي ها قطع گردد. و ما در هر جا با هر کسي آماده مذاکره ميباشيم.

محترم متوکل افزود تمام امکانات و وسايل زنده گي مردم افغانستان را ديکتاتوري کمونيستي از بين برده است اينکه وسايل در زندگي مردم نقش اساسي دارد امارت اسلامي افغانستان باز سازي و اعمار مجدد را در اولويت قرار داده توجه جدي را به آرامش و سعادت مردم معطوف داشته که اين خود يکي از ويژ گي هاي ا.ا.ا ميباشد و در تمام مسايل حقيقت را مي گويد و به آن حراست مي بخشد وي افزود تمام تبليغات و پروپاگند هايي که توسط راديو ها در رسانه هاي گروهي کشور هاي مغرض شنيده ميشود عاري از حقيقت بوده و پايه و اساسي ندارد.

محترم متوکل در اخير از شاغلي وندرل تقاضا نمود که مراتب نيك ا.ا.ا را به رهبران کشور هاي که پاليسي سالم و نيت صادقانه نسبت به ا.ا.ا و مردم افغانستان دارند برساند.

موصوف اضافه نمود کشور هايي که به خاطر اهداف سياسي شان ديگران را ملامت مي دانند بايست در موضعيگيري هاي خويش در قبال ا.ا.ا تجديد نظر نمايند.

وي گفت : ما با تمام کشور هاي جهان روابط نيك و حسنه را که بر اساس احترام متقابل استوار باشد خواهانيم.

در اخير شاغلي وندرل در رابطه به اظهارات وزير امور خارجه خوشبيني نشان داده و ابراز رضايت نمود.

موصوف که صبح روز پنجشنبه وارد کابل گرديد بعد از انجام مذاکرات با وزير امور خارجه عازم دوشنبه پايتخت تاجکستان گرديد.

د شمال د تيلو او ګاز له تصدي نه ...

رياست په ۱٤۲۰ هـ ق کال کی له زياتو ستونزو او نيمګړتياو سره سره بيا هم په دی بريالی شوی دی چی د اومو تيلو د پلورنی د وسايطو د کرايی د وسايطو د ترميم داجوری او د اوبو د څاګانو د کيندلو له پلوه پنځه ديرش مليارده دری سوه څلور څلويښت مليونه دوه سوه شپږ ديرش زره افغانی عايد تر لاسه کړی .

دغه راز د اوبو د شپږو زرو څاګانو د نلونو په غزولو سره د څښاک او د کرکيلی د اوبو د کمښت له پلوه د شبرغان ښار د پتمنو خلکو سملاسی اړتيا ليری کړی.

خبر ځای زياته کړه د شبرغان د بيلا بيلو سيمو د ژورو څاګانو او دستګاو د بيا جوړولو کار په سلو کی له څلويښتو څخه تر نوی پوری بشپړ شوی دی.

ايهود بارك تر ...

صهيونست رژيم د بهرنيو چارو وزير ديويد ليوی له ايهود بارک سره له کتنی وروسته څرګنده کړی ده چی غواړی له خپل مقام څخه ګوښه شی.

د يوېدلېوی په ايهود بارک باندی تور ولګاوه چی ګنی په کمپ ديويد کی يې فلسطينيانو ته زيات امتيازات ورکړی دی.

د صهيونستی مطبوعاتو د رپوټ له مخی ديويد ليوی د اسرائيلو په پارلمان کی د اقليت ډلی له مشر اريل شارون سره چی لاسی ګوند ليکو د ته د ستنيدو په باب خبری اتری کړی دی.

ديويد ليوی په ۱۹۹۸ ميلادی کال کی په هغه وخت کی له صدراعظم بنيامين نيتانياهو سره د سياسی شخړی له امله د اسرائيلو له ليکو د ګوند څخه ووت .

په بنګله ديش ...

غوښتو وروسته په دغه هيواد کی سياسی حالات بيا کړکيچن شوی دی.

د نړيوالو خبري منابعو د خبر له مخي د بنګله ديش د صدراعظمی شيخ حسينی واجد د حکومت څلورو مخالفو ګوندونو د اسد د مياشتی په شپاړسمه نېټه په بنګله ديش کی د سراسری مظاهرو او اعتصابونو د تر سره کولو غوښتنه کړی ده .

له ټاکل شوی پروګرام سره سم د بنګله ديش پارلمانی انتخابات د راتلونکی کال د اسد د مياشتی په وروستيو وختو کی تر سره کيږی خو مخالف ګوندونه له ټاکلی مودی څخه مخکی د انتخاباتو د تر سره کولو غوښتنه کوی.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press